مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۱/۱۰/۰۷

خلک وږي ول

د فرانسې د ستر انقلاب په اړه ټولنپوهانو، سیاستپوهانو، تاریخپوهانو او نورو شنونکیو ګڼې خبرې کړې دي او دغه انقلاب یې له ګڼو اړخونو ارزولی دی. خو تر ټولو ریښتینی انځور یې ادبیاتو وړاندې کړی دی. ویکتور هوګو د دغه انقلاب له پېښو سره په هممهاله کیسه (بېوزلان) په فرانسوي Les Misérablesکې، د دغه انقلاب لامل بیخي اسانه ښوولای:

خلک وږي ول.

بس...

ژان والژان د دغه داستان اتل ډوډۍ غلا کړه او کیسه پیل شوه.

وږي راپاڅېدل، د فرانسې او بشریت برخلیک یې پر بل مخ راواړاوه.

پر دې نوموتي ناول سریزه کښونکی (آپتن سینکلر) لیکي:

..."اوږده موده کېده، چې د زمانې درې ستونزې پرسېدلې وې؛ د نارینه و کړاو د بېوزلي، د ښځو کړاو له لوږې او د ماشومتوب د دوران کړاو د جسمي کمزورۍ له کبله ..." په یوه ستر ځواک واوښتل او د فرانسې انقلاب، بلکې نه، د بېوزلان ناول کیسه یې راوپنځوله.

ادبیات د مانا مانا ده، خو د ټولنې ریښتیا تر هرې بلې پوهنې ښه ترا څرګندوي:

"چې د خلکو ولږه، محرومیت، بېوزلي او استبداد زیات شي، نړۍ په بل مخ اړولای شي!"

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ